## بابت

هغه اصطلاح چې په معموله توګه د يو نقدي وجهې او يا يو حقوقي تعهد چې د يو حقيقي يا حکمي شخص په ذمه موجود وي او هغه قابل د أدا وي استعماليږي.
درى: [بابت]

## باته بيعه

له قطعي بيعې څخه عبارت ده. درى:[بيع بات]

## باج ګيري

د هغه مال يا وجهې څخه عبارت دى چې باج اخيستونکى ئې د قدرت، زور، تهديد او خپل نفوذ په واسطه له خلکو څخه اخلي. درى:[ باج گيرى]

## بارليك

هغه رسيد دى چې پکښې د هغو مالونو چې د ليږدونې راليږدونې لپاره منل شوي، فهرست شتوالى لري او د يوې ليږدوونکي راليږدوونکي مؤسسې له خوا د محصولاتو پلورونکي ته صادرېږي. درى: [بارنامه]

## بازار

هغه ځاى دى چې په هغه کې کالي او چارې د معاملې وړ وي. درى: [بازار]

## باستاني آثار

هغو شيانو ته ويل کيږي چې له پخوانيو وختونو څخه پاتې وي او يا يو هېواد او نړيوالو ته د مادي او معنوي ارزښت لرونکي وي. درى: [آثار باستانى]

## باطل

چې په اصل کې نا مشروع او په هيڅ صورت کې د حکم افاده نه کوي. درى: [باطل]

## باطل اجراآت

هغه باطل اجراآت دي چې پر هغو هيڅ قانوني اثر نه مرتب کېږي او د زمان د انقطاع سبب نه ګرځي.
درى: [اجراآت باطل]

## باطل ازدواج

هغه ازدواج چې د هغه په ارکانو او يا محل په پوهېدو سره يو خلل شتون ولري، باطل ويل کېږي، چې د صحيح او غير صحيح ازدواج آثار پر هغه باندې مرتب کيږي نه. درى: [ازدواج باطل]

## باطل اعتراف

هغه اعتراف چې په غير شرعي او غير قانوني توګه اخيستل شوى وي. درى:[اعتراف باطل]

## باطل تصرف

هغه تصرف چې اصلاً د شرعې او قانون پر بنسټ جواز ونه لري او پر هغه باندې کوم حقوقي اثر مرتب نشي.
درى:[تصرف باطل]

## باطل تفتيش

هغه تفتيش دى چې په غير قانوني توګه ترسره شوي وي او محکمه پر هغې استناد نشي کولاى.
درى: [تفتيش باطل]

## باطل رد

هغه رد چې موصي له د موصي تر مړينې وروسته وصيت رد کړي خو د موصي ورثه يې نه مني، رد باطل ګڼل کيږي. درى:[رد باطل]

## باطل سند

هغه سند دى چې د اثبات د وسيلې په توګه د قضا له خوا بې اعتباره پېژندل شوى وي. درى:[سند باطل]

## باطل شرط
هغه شرط دی چې د قوانینو او مقرراتو پرخلاف وي.
دری:[شرط باطل]

## باطل عقد
هر هغه عقد چې اصلاً او وصفاً مشروعیت ونلري، باطل عقد دی.
دری:[عقد باطل]

## باطل وصیت
هغه وصیت دی چې د قانون او شریعت له حکمونو سره سم ترسره شوې نه وي.
دری:[وصیت باطل]

## باطله اجاره
هغه اجاره ده چې په حقیقي یا حکمي توګه ورڅخه د ګټې اخیستل امکان ونلري. (اجاري ته دې رجوع وشي).
دری:[اجارهٔ باطل]

## باطله بیع
هغه بیع ده چې اصلاً او وصفاً صحت او مشروعیت نلري. (بیع ته دې رجوع وشي).
دری: [بیع باطل]

## باطله دعوی
هغه ادعا ده چې د هغې په ذات او ماهیت کې عیب وجود ولري.
دری: [دعوی باطل]

## باطله دفع
باطله دفع له هغه ډول مدافعې څخه عبارت ده چې په هغې کې د دعوی عمومي او خصوصي شرطونه رعایت شوي نه وي.
دری: [دفع باطل]

## باطني اجاره
د اجارې هغه عقد دی چې د دوه یم اجاره اخیستونکي او لومړني اجاره اخیستونکي په مینځ کې صورت نیسي.
دری: [اجارهٔ باطنی]

## باطني اراده
هغه اراده ده چې په نفس کې را پیدا شوې وي خو لا تر اوسه پورې څرګنده شوې نه وي.
دری:[ارادهٔ باطنی]

## باغي
هغه شخص دی چې مستقر حکومت ته اطاعت نه لري او په زور او قدرت د حکومتي نظام او حکومتي احکامو د تغییر په موخه فعالیت کوي.
دری: [باغی]

## باکره
له هغې پیغلې څخه عبارت ده چې لا مېړه یې نه وي کړی او بکارت یې نه وي زایل شوې.
دری:[باکرهٔ]

## بالتسلیم کفالت
د مال د تسلیمولو تعهد او کفالت کول دي.
دری:[کفالت باتسلیم]

## بالذات معین شی
هغه شی دی چې بهرنی، عیني او ذاتي شتون ولري.
دری: [شی معین بالذات]

## بالسبب اتلاف
هغه سبب دی چې شخص د مال د له منځه وړلو باعث وګرځي.
دری:[اتلاف باسبب]

## بالغ
هغه څوك چې د هغه بلوغ د قانوني او شرعي علامو څخه ثابت شوی وي. (بلوغ ته دې مراجعه وشي).
دری: [بالغ]

## بالمال کفالت
د مال د ادأ کولو تعهد دی.
دری:[کفالت بالمال]

## بالمعاوضه تصرف

هغه تصرف ته ویل کېږي چې بل لوري ته یې د حق او یا هم د بدل د ورکړې په وړاندې صورت نیولی وي.

دری: [تصرف بالمعاوضه]

## بالمقطع أجرت

هغه أجرت دی چې د هغه ورکړه د بېلابېلو پړاوونو په ترځ کې د وخت د سپما او د کار د ډول پر بنسټ د وجیبې د یوې خوا لپاره یې ژمنه شوی وي.

دری: [اجرت بالمقطع]

## بالمقطع قرارداد

هغه قرارداد دی چې د اداري او کار کوونکی د توافق پر بنسټ د یو ټاکلي کار د ترسره کولو په غرض د قانون له حکمونو سره سم منعقد کېږي.

دری:[قرارداد بالمقطع کار]

## باندتیزم

د دولتي ادارو او مؤسساتو پر ضد مسلحانه سازمان شوی عمل دی، چې د زیان رسولو او چپاول په موخه وي.

دری:[باندتیزم]

## باندینی معنوي اجبار

هغه حالت چې د تهدید یا ډار په واسطه بل د جرم ارتکاب ته اړ باسي. دری: [اجبار معنوی بیرونی]

## باند

پر هغه تشکیل، سازمان مونډلی جمعیت یا ډلی باندې اطلاق کېږي چې د درې تنو یا له هغو څخه له زیاتو جوړ شوی وي او د عامه نظم د اخلال سبب وګرځي.

دری:[باند]

## بانك

هغه مؤسسه ده چې د سهامي شرکت په ډول د اساسنامې په لرلو سره د قانون د احکامو سره تشکیل او فعالیت کوي. دری: [بانک]

## بانکنوټ

هغه وسیله ده چې د پیسو یا له پیسو سره برابر د استعمال په مقصد سره تري ګټه اخیستل کېږي او د واکمنې مرجع له خوا د قانون له حکمونو سره سم په هېواد یا بل ځای کې نشرېږي. دری:[بانکنوت]

## بانکي اجازه نامه

هغه اجازه لیک دی چې د با صلاحیته مرجع له خوا د مالي وضعیت او د فعالیت د څرنګوالي په باب د داخلي بانك د فروعاتو یا د نماینده ګیو د تاسیس یا جوړېدو په منظور د قانون له حکمونو سره سم صادرېږي.

دری:[اجازهٔ نامه بانکی]

## بانکي استمهال

د مرکزي بانك له خوا د یوې ټاکلې مودې په نظر کې نیولو سره په زیاته یا کمه اندازه د عمومي سپارنې او پانګې اچونې ترل چې د مالي شرایطو د ساتلو په منظور له متولي د نصبولو څخه وروسته وي.

دری: [استمهال بانکی]

## بانکي حقوق

بانکي حقوق د اعتباري پولي او مالي معاملاتو مجموعه ده او همدارنګه د بانکونو تشکیلات او جوړښتونه تر بحث لاندې نیسي. دری: [حقوق بانکی]

## بائن صغرا طلاق

تر دخول مخکې د زوجې هر ډول طلاق، همدارنګه یو یا دوه هغه رجعي طلاقونه چې پکښې رجوع نه وي ترسره شوې، بائن صغرا طلاق بلل کېږي.

دری:[طلاق بائن صغرا]

## بائن طلاق

بائن طلاق هغه دی چې تر طلاق وروسته زوج حق نلری ترڅو د عدت په اوږدو کې پرته له بل ځل نکاح او مهر ورکولو، خپلی زوجی ته رجوع وکړي.

دری:[طلاق بائن]

## بائن کبرا طلاق

هغه طلاق دی چې په درېیو طلاقونو سره واقع شوی وي.

دری:[ طلاق بائن کبری]

## بایره ځمکه

هغه ځمکه چې بالفعل د شخص په مالکیت کې وي خو نوموړی د نا معلومې مودې لپاره د هغې د آبادی له دوام څخه سترګې پټې کړي وي. دری: [اراضی بایر]

## بایع

هغه شخص چې کوم شی خرڅوي، بایع دی.

دری:[بایع]

## بچه بازي

له هلکانو څخه د شهواني او جنسي تمایلاتو د ارضا په موخه له بدې ګټې اخیستنې څخه عبارت دی.

دری:[بچه بازی]

## بدعت

دهغه قولي او یا فعلي چاری چې په شریعت کې سابقه و نه لري. دری:[بدعت]

## بدعي طلاق

هغه طلاق دی چې نا مشروع او حرام وي.

دری:[طلاق بدعی]

## بدل

هر هغه عوض ته چې په عقدونو کې د منافعو، مالونو اعیانو او حقوقو په وړاندې شتوالی ولري او په قانوني او شرعي توګه د هغه مبادله جواز ولري بدل ویل کېږي.

دری: [بدل]

## بدل ازدواج

د ازدواج هغه عقد دی چې د هغه په لړ کې یو شخص هغه ښځه او یا لور چې تر ولایت لاندې ئې وي بل شخص ته د هغې ښځې او یا لور چې تر ولایت لاندې یې قرار لري په ازدواج ورکړي. دری: [ازدواج بدل]

## بدلین

له هغه دوو عوضونو څخه عبارت دی چې په عقدونو کې د دواړو خواوو ترمینځ تبادله، ثمن او مبیعه افاده کوي. دری: [بدلین]

## بدنی جزاګانې

هغه جزاګانې دي، چې د انسان پر جسم اثر پرې باسي.

دری: [مجازات بدنی]

## بډای شوي یورانیوم

هغه یورانیم چې د ۲۳۳ یا ۲۳۵ ایزوتوپونو لرونکي یا دواړه په هغه مقدار سره وي چې له ۲۳۸ ایزوتوپونو سره په مقایسه کې د دغو ایزوتوپونو د زیاتوالي نسبت په طبیعت کې د موجودو ۲۳۵ پر ۲۳۸ ایزوتوپونو له نسبت څخه ستر وي. دری:[ یورانیم غنی شده]

## بذر

د دانې او بوټي کرل. دری: [بذر]

## برات

سند دی چې د هغه پراساس صادر وونکی له ځانګړي شخص څخه غواړي چې په ټاکل شوي وخت کې هغه پیسې چې درېیم کس هغه ته حواله کړي یا ورکوونکي په وجه کی یې ترسره کړي. دری: [برات]

## برائت الذمه

د متهم اصلي حالت دی تر هغه چه د باصلاحیته محکمې له خوا په نهایي حکم محکوم علیه نه وي واقع شوی.
دری: [برائت الذمه]

## برمته کول

هغه عمل دی چې د نورو خلکو په تهدید او عنف سره آزادي سلبوي او په غیر قانوني توګه یې په خپل واک کې د سیاسي او یا مادي ګټو لپاره ساتي.
دری:[گروگان گیری]

## بریءالذمه

هغه حالت دی چې یو شخص مدني او جزایي مسوولیت نلري. نوموړی حالت اصلي هم نومول کیږي.
دری: [بریء الذمه]

## بزهکار

هغه شخص چې په نا مشروع او نا قانونه اعمالو لاس پورې کوي. دری: [بزهکار]

## بسپنه

عبارت له هغه وړیا مرستې څخه ده چې د اشخاصو (حقیقي یا حکمي) له خوا نورو اشخاصو ته ترسره کیږي. دری: [اعانه]

## بست

د تشکیل یوه برخه چې د هغه پر بنسټ د ملکي خدمتونو کارکوونکي ورسپارل شوې دنده سرته رسوي.
دری: [بست]

## بسیطه دعوی

هغه دعوی ده چې د واکمنې محکمې د تشخیص په صورت کې ټاکل کیږي او په هغې کې د متداعیینو حالات هم په نظر کې نیول کیږي. دری: [دعوی بسیط]

## بسیط (ساده) دولت

هغه واحد دولت دی چې حکومتي او اداري څانګې یې مرکزي وي. (دولت ته دې مراجعه وشي).
دری: [دولت بسیط ساده]

## بسیط جرح

له هغې جرحې څخه عبارت ده چې له شلو ورځو څخه په کمه موده کې شفا مومي. دری: [جرح بسیط]

## بسیط جرمونه

هغه جرمونه چې له یوه موقت یا مستمر فعل څخه متشکل وي، بسیط جرمونه نومیږي.
دری: [جرایم بسیط]

## بسیط غبن

هغه غبن چې په هغه کی د عقد په وخت کې د مال د حقیقي بیعې او د پلورل شوي مال د بیعې ترمنځ تفاوت په سلوکې له پنځلسو څخه زیات نه وي.
دری: [غبن بسیط]

## بسیط قصد

هغه قصد دی چې مرتکب د جرمي عمل د ترسره کولو په اړوند پوره وخت ونلري. دری:[قصد بسیط]

## بسیطه غلا

هغه غلا ده چې په هغې کې د جرم مشدده حالات موجود نه وي. دری: [سرقت بسیط]

## بشری ضد جنایتونه

پر هغو جرمونو باندې اطلاق کیږي چې د انساني حقونو د قواعدو او بشري شئوناتو مخالف ئې صورت مونډلي وي. دری: جنایات ضد بشری]

## بشری قوا

د هغو افرادو مجموعه ده چې په یوه هېواد کې د کار استعداد ولري. دری:[قوای بشری]

## بصمات

هغه ګوته ده چې د سند د لیکلو په وخت کې د هغې ایښودل پر سند باندې حتمي دی. دری: [بصمات]

## بطلان

بطلان هغه حالت دی چې د ماهیت له مخې نامشروع ګڼل کیږي. دری:[بطلان]

## بغاوت

د حاکمیت پرضد هر هغه عمل چې د اتباعو له خوا ترسره کیږي او د عامه نظم د اخلال نتیجه منځ ته راوړي. دری: [بغاوت]

## بغیر له عذر څخه قتل

هغه وژنه ده چې د هغې د توجیه لپاره کوم قانوني او شرعي معذرت شتون ونه لري. دری: [قتل بدون عذر]

## بغیر له قانون څخه اکتساب

د هغه مال لاس ته راوړل دي چې په اصل کې شخص په قانوني او شرعي توګه د هغه مستحق نه وي. دری: [اکتساب غیر قانونی]

## بغیره حرز (غیر ذاتی حرز)

هغه محل دی چې د احراز لپاره ځانګړې شوی نه وي او اشخاص هغې ته پرته له اذن او اجازې څخه ورننوتلای شي. (محرز محل ته دې مراجعه وشي) دری: [حرز بغیر]

## بکر

هغه مسلمان کس دی چې لاتر اوسه ئې صحیح ازدواج نه وي تر سره کړی او یا ئې عقد تر سره کړی وی اما وطی ئې نه وي کړې. دری: [بکر]

## بل

د پلورل شویو شیانو لیکلې شرحه ده چې له بیې سره یې پېرودونکی یا مستهلك ته سپارل کیږي. دری: [بل]

## بلا انقطاع

هغه اصطلاح ده چې یو شخص ته د یو حق د لرلو په دوام مونډلو باندې د کوم انقطاع د نه واقع کېدلو په معنی کارول کیږي. دری: [بلا انقطاع]

## بلا فاصله

د مشهود جرم هغه حالت چې د جرم آثار، د هغې د واقع کېدلو ښکارندوی وي ځکه چې د جرم علامې لا په خپل حال باقي دي او له منځه نه دي تللي.

دری: [بلا فاصله]

## بلا مرجح ترجیح

هغه اصطلاح چې له دوو امرونو څخه یو ته، پرته له کوم ترجیحي دلیل څخه برتري ورکول کیږي.

دری: [ترجیح بلامرجح]

## بلا معارض مدعي

هغه مدعي دی چې هېڅوك ور سره معارض نه وي. (مدعي ته دې مراجعه وشي). دری: [مدعی بلامعارض]

## بلانحصار وارث

هغه وارث دی چې په یواځیتوب سره په شرعي او قانوني توګه د متوفی د ټولې متروکې مالک او صاحب وګرځي. دری: [وارث بلانحصار]

## بلوغ

د جسماني کمال رسیدل او وده. دری: [بلوغ]

## بنت

(بنت) د شخص د مونث فروع قرابت، تر هره لاندینۍ کچې پورې چې وي. دری: [بنت]

## بنستیز تأسیسات

هغه دولتي یا غیر دولتي تأسیسات چې د ګاز، نفتو او اوبو، تولید، زېرمه کول، وېشل، برېښنا، مالي خدمتونه، پوهنې، بانکداری، روغتیایي، د اور وژنې او ژغورنې، ترانسپورتي او یا نورو ټولنیز- اقتصادي خدمتونه وړاندې کوي. دری: [ تأسیسات زیربنایی]

## بنفسه حرز (ذاتی حرز)

هغه محل دی چې د احراز لپاره ځانګړی شوی وي او هغې ته داخلېدل ممنوع وي مګر داچه د مالك په اذن او اجازه وي. (محرز محل ته دې مراجعه وشي)

دری: [حرز بنفس]

## بنفسه عصبه

هغه څوك دی چې له متوفی سره د قرابت مستقیمه رابطه ولري او د قرابت د رابطې په نسبت کې متوفی ښځینه شامل نه وي. دری:[عصبه بنفسه]

## بنوت

د شخص قرابت د هغه له فروع سره چې شرعاً او قانوناً ثابت وي. دری: [بنوت]

## بودجوي درېیم واحد

هغه اداره چې د لګښتونو د تخمیني سند لرونکی وي او د دوه یم واحد ترلاس لاندې وي.

دری:[واحد سومی بودجوی]

## بودجوي دوه یم واحد

هغه اداره چې د لګښتونو د تخمین د سند لرونکی وي او د دوه یم واحد تر لاس لاندې وي.

دری:[واحد دوم بودجوی]

## بودجوي لومړني واحد

هغه وزارتونه او دولتي ادارې دي چې د بودجې په انډول کې د خپلواکې بودجې لرونکي وي.

دری:[واحد اول بودجوی]

## بودجوي واك

هغه واک دی چې د قانون له حکمونو سره سم د کلنۍ بودجې د اړوندو سندونو د صادرولو په منظور ذیصلاح مرجع ته ورکول (اعطا) کیږي. دری:[صلاحیت بودجوی]

## بودجه

هغه تقنیني سند دی چې پکښې د یوه دولت کالني عواید او لګښتونه مشخص کیږي. دری: [بودجه]

## بور

له هغه ځمکې څخه عبارت دی چې کرل شوی نه وي.

دری:[بور]

## بورس

بورس هغه بازار دی چې په هغه کې ارزښت لرونکي پاڼې د راکړې ورکړې وړ وي او د نوموړو پاڼو (اوراقو) قیمت د عرضې او تقاضا پر اساس تعین او اعلانیږي.

دری: [بورس]

### بهر بينه
هغـه شـاهد دی چـې غيـر متصـرف شـخص راوړی وي.
دری:[بينه خارج]

### بهرني اسناد
هغه اسناد چې په بهر کې د خـارجي حقيقـي يـا حکمـي اشخاصو له خوا ترتيب شوي وي. دری: [اسناد خارجی]

### بهرنۍ سوداګري
له هغو سوداګريزو فعاليتونو او معاملاتو څخه عبـارت دی چې يو هېواد يې لـه بـل هېـواد يـا هېوادونـو سـره ترسـره کوي.

(سوداګری ته دې مراجعه وشي). دری: [تجارت خارجی]

### بهرنۍ مؤسسه
هغه شرکت يا مؤسسه ده چې پـه يـوه بهرنـي هېـواد کـې تاسيس شوی وي او ياېې اساسنامه هلته ثبت شوی وي او زمونږ په هېواد کې د خپلې نماينده ګۍ له لياري د قـانون سره سم فعاليت وکړي. دری: [مؤسسه خارجی]

### بهرنی قانون
هر هغه قانون چې د يو هېواد د قلمرو نه بهر د تطبيـق وړ وي، خارجي قانون پېژندل کيږي. دری: [قانون خارجی]

### بهرنی
د پرنسيپ له مخې بهرنـی، هغـه ويلـی شـو چـې پـه هغـه هېواد کی چې پکښې استوګنه لري د هغه تابعيت ونلـري.
دری:[خارجی]

### بهرنی برات
هغه برات دی چـې د هغـه د صـادرولو او ورکـړې ځـای دوه بېل هېوادونه وي. (برات ته دې مراجعه وشي).
دری: [برات خارجی]

### بهرنی خپلواك بررس
هغه مجربه شخص چه د مرکزي بانک له خوا د بانـک د شتمنيو او حسابرسی د مناسبو اصولو د ساتنې، پـه منظـور په يو کورني بانك کې توظيف کيږي.
دری:[بررس مستقل بيرونی]

### بيمه
بيمه هغه تړون دی چې د هغه په اساس يو طرف (د بيمې شرکت) قبلوي چې د معينې وجې او يا پيسو پـه وړانـدې چې لـه مقابـل لـوري (هغـه څـوک چـې بيمـه کـوي) د حادثې د واقع کېدو يا د يوې حادثې په رامـنځ تـه کېـدو سره ور اوښتي زيانونه جبرانوي يا معينه وجه يا پيسې هغه ته ورکوي. دری: [بيمه]

### بې احتياطي
له داسې وضعې څخـه عبـارت دی چـې پـه هغـې کـې د عمل مرتکب د خپل مشروع عمـل د نتيجـې د اوضـاع او احوال وړانديز نشي کولی چې ددې نه پاملرنې پـه نتيجـه کې زيان ايجاد کيږي. دری:[بی احتياطی]

### بې بدله عقد
له هغې عقد څخه عبارت دی چې په هغه کې د عقـد لـه دواړو خواوو څخه يوه خوا مقابل لوري ته بې بدلـه ګټـه ور په برخه کوي. دری:[ عقد غير معوض]

### بې ځايه ورکړه
هغـه ورکـړه چـې اساسـاً شـخص پـرې مکلـف نـه وي.
دری: [پرداخت نابجا]

### بې ښبتنه بايره ځمکه
هغه ځمکه ده چې د شخص په مالکيت کې نه وي بلکـه دولتي ملکيت وي. دری:[ اراضی باير لا مالک]

## بې څښتنه کرنیزه ځمکه

هغه کرنیزه ځمکه ده چې د دولت ملکیت شمېرل کیږي او تملیک یې د دولت له اجازې پرته او د قانون د حکمونو پرخلاف جواز نلري.

دری:[ اراضی زراعتی لا مالک]

## بې حرمتي

هر هغه عمل چې د دود او عمومي اخلاقو سره په مخالفت کې وي او د اشخاصو حیثیت ته صدمه رسوي.

دری:[بی حرمتی]

## بې مبالاتي

د هغې بې احتیاطی څخه عبارت دی چې د فعل د ترک په صورت کې مینځ ته راځي او د هغه عمل کولو څخه ځان ساتنه ده چې د هغې په کولو کې احتیاط شرط دی.

دری: [بی مبالاتی]

## بې وارثه مال

هغه شتمنی ده چې د مالك د مړینې وروسته یې مستحق وارث موجود نه وي او دغه دارایي په دولت پورې اړه پیدا کوي. دری: [مال بی وارث]

## بې وزله کوچی

هغه کوچی دی چې د نورو له مزدورۍ یا شپنی پرته بل عاید و نه لري. دری:[کوچی بی بضاعت]

## بېوزله (بې بضاعته)

هغه شخص چې مالي توان په نشتوالي سره په جنایي موضوعګانو کې د مدافع وکیل د استخدام وس (قدرت) ونه لري. دری:[بی بضاعت]

## بی نومه سهم (ونډه)

هغه سهم چې د سهم لرونکي نوم په هغه کې نه وي یاد شوی. دری: [سهم بی نام]

## بی وسلې غلا

وسلې ته د لاس نه وروړلو او زور او تهدید څخه پرته د بل د مال له اخیستلو څخه عبارت دی.

دری:[سرقت غیر مسلحانه]

## بیجك

د هغو مالونو لست دی چې د لیکل شویو شیانو د بیې او اندازې ښکارندوی وي. دری: [بیجک]

## بیع

د څرګند بدل په وړاندې د مال له تملیک څخه عبارت ده. دری:[بیع]

## بیمه شوی

هغه شخص دی چې د بیمې د عقد په موجب د یوی اندازې پیسو په ورکولو د حوادثو په مقابل یا د هغو خطراتو په وړاندې چې په عقد کې تعیین شوی وي، بیمه شوی وي. (بیمي ته دې مراجعه وشي).دری:[بیمه شونده]

## بیمه کوونکی

هغه شخص دی چې د بیمې د عقد په موجب د پیښې او یا هغه خطر د پیښېدو په وخت چې د عقد پرمهال ټاکل شوی وي بیمه شوي ته تعهد کوي. (بیمې ته دې مراجعه وشي). دری:[بیمه کننده]

## بین الدول معاهده

هغه ډول بین المللی تړون چې د دولتونو په مینځ کې عقد کیږي او د حقوقي نتایجو لرونکی وي.

دری: [معاهده بین الدول]

**بین المللی جرم**

د بین المللی حقونو د یوې قاعدې له نقض او تخطي څخه عبارت دی چې د جنګي جرمونو په عملیاتو او یا په بشري حقوقو کې تطبیق کیږي.

دری:[ جرم بین المللی]

**بینه**

هغه دلیل چې د حقیقت پر تبین او اظهار دلالت وکړي او د قضاء په وړاندې د ثبوت د دلیل په توګه ومنل شي.

دری:[بینه]

**بیه**

عبارت د مال له ارزښت څخه ده، چې معمولاً په نقودو تعینیږي. دری: [قیمت]